# ایا نه به يې حرامول هغه څه چې الله به حلال کړي و او تاسو به بیا هغه حرام ګڼل، او حلالول به يې هغه څه چې الله به حرام کړي و او تاسو به حلال ګڼل؟ نو ما وویل: هو خبره همداسې وه : ویې ویيل: همدا يې عبادت دی.

له عدي بن حاتم - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې هغه له نبي - صلى الله عليه وسلم - څخه واوریدل چې دا آیت يې لوسته: "اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ" 9-31 دوی خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غیر واکداران د حل او د حرمت نیولي دي او د مریم زوی مسیح (يې هم) معبود نیولای، حال داچې دوی ته حکم نه و شوی مګر د دې چې دوی دې د یو حق معبود عبادت کوي چې نشته هیڅ حق معبود مګر همدی دی، هغه پاك دی له هغه څه نه چې دوی يې (ورسره) شریکوي. - وایي - نو ما ورته وویل: مونږ د هغوی عبادت نه کوو، ویې ویل: آیا هغوی نه حراموي هغه څه چې الله حلال کړي دي، او بیا يې تاحرام ګڼئ، او حلالوي هغه څه چې الله حرام کړي دي او بیا يې تاسو حلال ګڼئ؟ نو ما وویل: هو : ویې ویيل: همدا يې عبادت دی.

[صحيح] [ترمذی روایت کړی دی]

کله چې دې جلیل القدر صحابي له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه د دې آیت تلاوت واوریده چې د یهودو او نصاراو په اړه پکې وضاحت شوی دی: چې دوی خپل علما او عابدان خپل معبودان جوړ کړي، هغوی ورته هغه څه روا کوي چې د الله د شریعت سره په ټکر کې وي، او بیا يې په هغې کې اطاعت هم کوي، نو د دې آیت معنا باندې - صحابي - پوه نه شو، ځکه هغه ګمان کاوه چې عبادت یوازې سجده کول او داسې نور - کارونه - دي، تر دې چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ورته وضاحت ورکړ چې : د یهودو د علماوو او مسیحی عابدانو له عبادت څخه دا دي چې : دوی يې اطاعت کوي د حلالو په حرامولو او حرامو په حلالولو سره، د الله - تعالى - او د هغه د رسول - صلى الله عليه وسلم - د حکم خلاف.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3384